محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۵/۲۹

«مردی از کوهستان»

ناتمامه خو کامل اثر

«مردی از کوهستان» د اروابناد سلیمان لایق وروستی، خو نیمګړی اثر دی چې تر مرګ وروسته یې چاپ شوی دی.
«مردی از کوهستان» منظومه فارسي کیسه ده چې پنځه څپرکي لري او پیل یې پر یوې واقعي پېښې شوی دی.
څه باندې شپږ کاله مخکې له څو نورو ملګرو سره د ښاغلي لایق لیدو ته ورغلی وم. په هاغه ورځ لایق صاحب د خپل ژوند په اړه ډېرې کیسې وکړې. یوه کیسه یې همدا وه چې د خلق ډیموکراتیک ګوند د واکمنۍ پر مهال چې دی مهم چارواکی و، یوه شرقي ولایت ته د ستونزو د هوارولو لپاره تللی و. هلته پوځیانو د حکومت یو مخالف جنګیالی یرغمل کړی و. جنګیالی دومره زړور او بې‌باکه و چې لایق صاحب یې حیران او مجذوب کړی و. ښاغلي لایق د خپلو ملګرو له مخالفت سره سره، هغه خوشی کړی و. وروسته لایق صاحب پر همدې پېښې د یوه منظوم ناول د لیکلو تابیا کړې وه. لایق صاحب ویل چې د منظومې د لیکلو په هماغه لومړیو وختونو کې امریکاییانو ورته وړاندیز کړی و چې له دې ناول څخه به په هالیوود کې فلم جوړوي، خو ده ورسره نه وه منلې.
دلته به وګورو چې ښاغلي لایق په دې کیسه کې څه ویلي دي. دا چې څنګه یې ویلي دي، د کیسې تر لنډیر وروسته به پرې وغږېږو.

چو هیکلی که خدایش تراش کرده به شوق
بلند قامت و مردانه و سلاح به دست

منظومه په همدې بیت پیلېږي. ډګرمن دغه دنګ، هډور، مېړنی یرغمل راوي ته ورولي او غواړي چې راوي د صحرایي محاکمې یعنې د یرغمل د وژلو امر ورکړي، خو:

و من که شاعرم و پاسبانِ گرم حیات
ز سحرِ هیکل و گوپالِ او شدم از جای
ز دست رفت مرا عقل و حکمتِ تدبیر
و گفتمی به دگرمن نمی‌توان کشتن
چنین نهنگِ تن‌آور، چنین جوانِ اسیر

راوي چې شاعر دی او کار یې د ژوند ساتنه، د یرغمل د وژلو امر څنګه ورکړي؟ هغه وایي چې دغه دنګه ځواني د نړولو نه ده. هغه خوشی کړئ چې نړۍ وپېژني؛ فکر وکړي؛ سمه لاره سهي کړي؛ له اشرارو څخه خپله لاره بېله کړي؛ او د ګوندیانو لویي ووینې. ډګرمن یرغمل ته مخ اړوي او وایي چې زموږ د ګوند ښېګڼه به مني چې ژوند یې دروباخښه، ګنې ستا حق خو صحرایي محاکمه وه، نو زموږ ګوند وستایه. جنګیالی غوږېږي، وایي ومې وژنئ خو مه مې تحقیروئ. که له مېړه څخه مېړانه واخلئ، نو نور به څه ورپاتې شي؟ زه مرګ منم خو بې‌ننګي نه منم.
ډګرمن چې د هغه غرور ته ګوري، بیا راوي ته وایي چې مه یې خوشی کوه. دی لا د مار بچی دی خو که یې خوشی کړې، ښامار به شي.
راوي ورته وایي چې ته نو ولې د دې ماشوم په باتو دومره جذباتي شوې. بیا یرغمل ته په غوسه وایي چې ته د کومې مېړانې خبره کوې. قتل او غلا او چور مېړانه ده؟ په دغه لاره چې ته روان یې، دا د مېړنو لاره ده؟ د دې پر ځای چې پښېمانه وې، لا د مېړانې خبره هم کوې. نرتوب دا دی چې خپل وطن جوړ کړې، که دا دی چې د دښمنانو ګوډاګی شې او وطن وران کړې؟ ته به مېړنی یې، خو بې‌ماغزو مېړنی.

تو تیغِ دستِ یزیدی به قتل آل حسین

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

به دست شیر خدا تیغ ذوالفقار نه‌ای
د راوي، جنګیالي او ډګرمن ناندري پسې غځېږي. راوي هڅه کوي چې د جنګیالي ذهنیت بدل کاندي چې تر خوشې کېدو وروسته فکر وکړي او خپله لاره بدله کړي. ډګرمن بیا بیا ټینګار کوي چې هغه باید ووژل شي. خو جنګیالی تر پایه پورې له خپلې خبرې نه اوړي او هر ځل وایي چې که مې په دې نیت خوشی کوئ چې زه به ستاسو احسان منم او له خپلې لارې به اوړم، نو مړ مې کړئ، ځکه چې دا له ما نه نه‌کېږي.
په آخر کې جنګیالی خوشی کېږي. او نور نو راوي چې تر دې دمه پورې د کیسې برخه‌وال و، په درېمګړي راوي اوړي او کیسه داسې روایت کوي لکه پېښو ته چې له پاسه ګوري.
ظفر، چې عسکرو ورته د خوراک شیان، د ده وسله او مرمۍ ورکړې دي، د خپل کلي خوا ته روانېږي. په ذهن کې یې د راوي خبرې تاوېږي راتاوېږي چې «دا جهاد نه دی چې تاسې یې کوئ، دا فساد دی. د خپل وطن ورانول مېړانه نه ده ...» بیا زهره وریادېږي. په خیال کې خپله معشوقه ورسره خبرې کوي. ورته وایي چې ستا کار خو له کتاب سره و، تا څنګه ټوپک ته مخه کړه. ته خو د مینې سړی وې، نو څنګه دې کرکې ته غاړه ورکړه. ما اورېدلي دي چې تاسې نه واړه پرېږدئ، نه زاړه؛ نه پر پېغلو رحم کوئ، نه پر بوډیو. تا څنګه له قاتلانو سره لاس یو کړی دی. په همدې چورتونو کې روان دی چې د درنې چاودنې غږ غرونه لړزوي او د دوی د کلي پول په هوا کوي. دی ورځي او هغه شېږ تنه ږیرور او څنېور چې پول یې په بم الوځولی دی، نیسي. لاسونه یې ورتړي او د خپل کلي خوا ته یې په مخه کوي. کلیوال مجاهدین د ده په لیدو سخت خوشحاله کېږي او د هغو ظلمونو کیسې ورته کوي چې د ده په نه شتون کې جهادي قومندانانو پر خلکو کړي دي.
ظفر خبرېږي چې زهره رسول ته ورکوژده شوې ده. رسول د ده زړور یار او د جهاد نژدې ملګری و خو له زهرې سره د ده له مینې ناخبر و. جهادي قومندان امیر ګجر او د زهرې تره چې غیاث نومېږي زهره ځکه رسول ته ورکړې ده چې هغه خپل ملګری کړي او بیا د هغه په زور پر ټوله سیمه خپله واکمني وغځوي او ظفر هم ورباندې سټ کړي. ظفر ډېر ځورېږي خو چاره یې نشته. هغه رسول او خپل نور ملګري بېرته سره راټولوي او ورته وایي چې موږ به نه د دولت خوا نیسو، نه د جهادیانو. موږ به خپله سیمه د دواړو له شره ساتو.
څه موده وروسته امیر ګجر له خپلو دوو سوو جنګیالیو سره د دوی پر سیمې د حملې په نیت راوځي. ظفر چې خبرېږي، رسول ته وایي چې د درې د دواړو خواوو لوړې څوکې دې ژر ونیسي او له هرې خوا دې د ګجر لښکر محاصره کړي. امیر لا ګومان کوي چې د ظفر کسان کم دي، نو دی به ورسره وجنګېږي، خو ځینې سرګروپان یې بغاوت کوي او وایي چې موږ د غرونو له عقاب)ظفر) سره جګړه نه کوو. امیر د غیاث په مشوره غاړه نرموي او داسې ښیي چې ګواکې دوی اورېدلي دي چې دولتي ځواکونه پر سیمه برید کوي، نو د مرستې په خاطر راغلي دي. ظفر رسول د هغوی هرکلي ته استوي او ورته وایي چې په درناوي یې بدرګه کړه او پام کوه چې خپه یې نه کړې. رسول ټینګ دی چې دا د لېوه ذات دی، ولې ورسره ښه کوې. پرېږده چې مړه یې کړو. خو ظفر وایي نه. رسول امیر ګجر او څو ملګري یې په ادب او احترام راولي.
او کیسه همدلته ختمېږي.
سره له دې چې لایق صاحب دا منظومه ان په شپېتمو شمسي کلونو کې پیل کړې وه خو خدای خبر چې ولې ورنه همداسې نیمګړې پاتې شوې ده. خو کیسه که نیمګړې هم ده، اوچته شاعري په کې شوې ده. د منظومې ځینې برخې د آزاد نظم په قالب کې لیکل شوې دي خو ډېره برخه یې ترجیع بند او یوه نیمه برخه یې د غزل، مثنوي او قطعې په بڼه ده. دلته به د دې منظومې ځینې ځانګړنې راوسپړو.

ژبه

د دې اثر په لوستلو سره سړي ته پته لګېږي چې لایق صاحب پر فارسي ژبه څومره برلاسی و. داسې ښکاري چې ژبه د ده په لاس کې د موم غوندې وه. په دې شعرونو کې د فارسي ژبې کلاسیکه بڼه هم وینو، معاصره هم؛ د ګړنۍ ژبې اصطلاحات هم په کې شته او له انګلیسي ژبې ځینې راغلې کلمې هم؛ یوه نیمه پښتو کلمه هم لري او د عربي ژبې ډېرې کلمې او عبارتونه هم. بېلګې یې دا دي:
بیایدا - رسولا - مثال ده که به جا آوریم سرور من - به پشاور شو - فراز شد سوی کوی ملک به تنهایی - به سوی باغ شد و از درخت جوز کهن – ز سحرِ هیکل و گوپالِ او شدم از جای – گفتمی – نَبَرده - شرزه ...
په دې جملو کې «**مثال دِه**» د ووایه یا امر وکړه په معنا ده چې په اوسنۍ فارسي کې یې څوک نه کاروي؛ د «**شو**، **شد**» اصلي معنا «کېږه، وشو» ده خو په کلاسیکه فارسي کې د «ورشه، ولاړ» په معنا کارېدل، همدارنګه «**جوز**» په پخوانۍ فارسي کې غوزانو/ مټک ته ویل کېده چې په اوسنۍ فارسي کې ورته چارمغز وایي او «**گوپال**» په کلاسیکو متنونو کې د «ګُرز» او «**شدم**» د «پاڅېدم» په معنا کارول شوی دی. «**نبرده** (مېړنی، جنګیالی)» او «**شرزه** (خشن، زورور)» هم په د پخوانۍ فارسي کلمې دي او له « **گفتمی**» څخه هم د کلاسیک نثر وړم لټېږي.

وا، تُنُک ، پیشترک، خوید، دور خورد، دورترک، ستنگ، کیسه‌بُر، چتاق، مرغ‌دزد، تاقین‌ربا، پُس پُس و سُر سُر، کو (کجاست)، پندیده‌تر، نمی‌پایی، یخن، خرسنگ، پرچال، تازید، اژده‌هار، راکت‌چی، کِشِک ... د فارسي ژبې هغه کلمې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دي چې په ولسي ژبه کې شته خو په ليکنې ژبه کې خورا کمې راغلې دي. د فارسي ژبې اکثره شاعران او ليکوال ګومان کوي چې هغه کلمې چې په قاموسونو/ ډيکشنريو کې نشته، هغه مبتذلې دي او کارول يې عيب دی. دا چې د فارسي ژبې تقريباً ټولې ډيکشنرۍ ايرانيانو ليکلې دي او هغوی ته د افغانستان د فارسيژبو ګړنې اصطلاحات نه وو ورمعلوم، نو ډېرې زياتې کلمې ځنې پاتې شوې دي چې اوس افغان فارسيژبې شاعر او ليکوال يې پر ليکلو شرمېږي. خو لايق صاحب چې لوی شاعر و، له کلمو سره يې دا تعصب نه دی کړی. د ولسي ژبې کلمو د هغه شاعرې لا صميمي او لا ښايسته کړې ده. همدارنګه، شاعر د ولسي ژبې ځينې ګړنې/ محاورې هم راوړي دي، لکه: **غريو شادزی از سنګ و چوب بالا شد – که سير آرد شود چند قرص نان فطير – رسيده بود بلايی ولی به خير گذشت ...**

په دې شعرونو کې د عربي ژبې ځينې داسې کلمې راغلې دي چې په اوسنۍ فارسي کې عامې نه دي او د شلمې پېړۍ د لومړۍ نيمايي د فارسي شعر او نثر رنګ او خوند لېږدوي: خزيد و پردۀ **ساتر** کشيد بر تن خود، **سعير، اثير، کثير، مستتر، احرار، ابرار، حرير**، به جز **تمرد و فرط جنون** مخواه از من، **غزال منتقم** و آفتاب رسوايم، **تدمير، خائن بالطبع، رجعت، نيران، تزوير، خاسر، ذروۀ موج**...

او د پښتو او انګليسي ځينې کلمې هم کارول شوي دي، لکه: **کوشير-** به سعی بندهګی ما **ککی، غمی** نشود - **ولکان** (دو چشم روشنش آتش گرفت، ولکان شد).

د کلمو نوې کول

پر دې سربېره چې لايق صاحب په خپله شاعري کې کلاسيکه فارسي، معاصره فارسي، او ولسي فارسي رانغښتې دي، ژبه يې نوې کړې هم ده. د دې اثر ژبه سولېدلې کليشه‌يي ژبه نه ده، بلکې نوې تازه ژبه ده. دا نويوالی که له يوې خوا د نويو ترکيبونو محصول دی؛ له بلې خوا، د نويو کلمو مولود دی. ښاغلې لايق په ځينو ځايونو کې معمول فعلونه بدل کړي دي او ژبې ته يې تازګي ورکړې ده، لکه: «تراش **گيرد**» د دې مفهوم لپاره معمول فعل «شدن» دی «تراش شود» خو دلته د «شود» پر ځای «گيرد» راغلی. «**پروريده‌ای**» د دې فعل اصلي بڼه ده «پرورده‌ای». د خپل ساه د بندولو لپاره په فارسي کې معمول فعل «حبس کردن» دی خو لايق صاحب وايي «نَفَس خود **شکست**». بل تخنيک چې لايق صاحب د ژبې د نوې کولو لپاره کارولی دی، په مشتق او مرکبو کلمو کې د روستاړي او/ يا يې د اصلي برخې (ريښې) بدلول دي. دلته به يې ځينې نموني راواخلو او په ليندیو کې به د دې کلمو عامې بڼې راوړو: **تباه‌گران (تباه‌کاران)، نبردآور (جنګ‌آور)، ستاره‌بار (پرستاره)، بهانه‌طلب (بهانه‌جو)، پرورش‌ده (پرورنده)، شوربخش (شور انګيز)، کرم شب‌نما (کرم شب‌تاب)، خوک گونه (خوک مانند)، حادثه‌جو (ماجراجو)، فروش‌کار (فروشنده)، برهنه‌قامت (برهنه‌تن)، غيرپرست (بيګانه‌پرست)، فسون‌کار (فسونګر)، نوحه سازی (نوحه سرايی)، کاه‌خانه (کاه‌دان)، ستم‌باره (ستمګر)، کينه‌ور (کينه‌توز)، نبرد تير به تير (جنګ رو در رو)، نصيبۀ ما (نصيب ما)، ګاهوار (ګهواره).**

نوې ترکيبونه

ښاغلی لايق په ترکيب جوړولو کې داسې استاد دی چې سړي ته حضرت بېدل وريادوي. دا اثر يې له نويو ترکيبونو مالامال دی چې ځينې نموني يې دلته لولو: **منِ فلک‌زده، سر پرفتنه، خلاب حوض کثافت، پر خشکيدۀ گياه، تفنګ مرگ، جسارت وحشی، کدوی سر، يل نبرده، شسته افغان، تنور غضب، درنده کسان، شکسته سری، سرب داغ مسلسل، تندپيچ حتمی مرگ، آتش تنان، جنګل انديشه، فراز تخت تخيل، دره‌های بلند، تنک خمچه، آدم‌ربا، چراغ سرد خرد، کج آهنگ، ريش تنک، آتش فشان عصيان، مصيبت عالم‌ربا، تکيه‌گاه شر، آه مختنق، دامِ آزار، دره‌های فلک‌سای، نخل خنک‌کشته، ادب‌گاه عقل، سرد جان، سايه پرور، زهر صبر، جگرگاه، آفتاب‌آويز، شيشه‌کاری، نبرد تير به تير، خون‌سِتان، گاهِ نازک پدرود، او لسګونه نور.**

تشبيه‌ګانې او تصويرونه

د لايق صاحب کمال يوازې د نويو ترکيبونو او نويو کلمو په جوړولو نه دی منحصر، بلکې بلا نوې تشبيه‌ګانې، نوې مثالونه، او په زړه پورې منظرکشۍ هم کوي.

لبش گزيد به دندان و بوسه باران کرد
دو بازوان به تن گرم عشقه‌پيچان کرد
چو شعله‌يی که بپيچد به گرد موج حرير
و يا گرسنه پلنگی به قامت نخچير

دلته يې تر معشوقې د غېږې ګرځول له دريو شيانو سره تشبيه کړي دي: د پېروتي ګل له تاوېده سره، تر وربښمين ټوکر د لمبې له ګرځېدو سره، او تر هوسۍ د وړې پړانګ له چاپېرېدو سره.

و پشته‌ها همه پوشيد جامه‌های حرير
و دره غرق تنک خمچه‌ها چو لانۀ تير

غونډيو وربښمينې جامې واغوستې او دره (چې له ونو ډکه ده) د غشو له کڅوړې سره ورته بلل شوې ده.

تو خواب‌گونه ز من رفته با شب گذران
و من به ياد تو ناليده تا سپيده‌دمان

ته لکه خوب رانه ولاړې.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

چو کوسه‌ماهی آدم‌ربا ز ذروهٔ موج
و انفجار چو تب لرزه در مفاصل کوه
و پل ز ضربت آن انفجار مرگ‌آور
چو تیر خورده نهنگی میان رود خوید

چاودني غر داسي ولړزاوه لکه يخه تبه چې د سړي بندونه لړزوي او پول د چاودني له ضربه د سيند په منځ کې داسې ځملاست لکه ويشتل شوی نهنګ.

و کوه‌ها به تُنُک روشنی ستاده چنان
چو گوهرینهٔ سلطان شبِ چراغانی

غرونه په تنکۍ رڼا کې داسې ولاړ دي لکه د سلطان د غميو تاج چې د شپې څراغونو ته ځلېږي.

نسیم نغز ملایم چو دست مهر پدر

نرۍ خوږ باد د پلار د مينې لاس سره تشبيه شوی دی.

قطارهای سپیدارها به زمزمه‌ها
چو کاهنان شب جنگل به گاه قربانی

د سپېدارو ونو کتارونه چې د باد د لګېدو په وجه آواز کوي، هغه کاهنان بلل شوي دي چې د قربانۍ پر مهال دعاګانې کوي.

و شب چو کوزهٔ اسرار دل فریفته‌گان
شب خموش ولی پر ز صولت عصیان

شپه د مينانو د رازونو کوزه ده، شپه خاموشه خو د ګناه له ځواکه ډکه ده.

و آسمان کهن، کوژپشت آبی پوش

آسمان هغه کوږستی چې نيلي جامې يې اغوستې دي.

سپیده‌های سحر شیر زد به سقف کبود
و چرخ راه چراغان خویش را پیمود

د سهار سپېدو پر نيلي چت شيدې وشيندلې.

و لاجورد افق گشت رود خون آلود
و شب به جام طلا ریخت هر چه بود و نبود

او د سهارني شفق دغه بې ساری انځور وګورئ: د آسمان لاجورد په وينلړي سيند بدل شو او شپې خپل هر څه په طلايي جام کې واچول. دلته آسمان له لاجورد سره تشبيه شوی، شفق له وينلړي سيند سره، لمر د سرو زرو له جام سره، شپه له هغه چا سره چې خپله ټوله شتمني (ستوري) د لمر په زرين جام کې غورځوي.

چو طفل گم‌شده از خانه زار زار گریست

د سختې ژړا لپاره د يتيم مثال مو په ډېرو شعرونو کې ليدلی دی خو له کوره د ورک شوي ماشوم مثال نوی او مناسب مثال دی.

موسيقي

د لايق صاحب دغه شعرونه ډېر خوږ آهنګ، مناسب ريدم او خوندوره موسيقي لري. د شعرونو ريدم او موسيقي داسې دي چې چېرته د ولولې او جذبې خبره وي، د مارش او شعار رنګ اخلي؛ کله چې د غم او خفګان خبره شي، د وايلن نغمه شي؛ او کله چې د مينې او وصال بيان کېږي، د اتڼ ډول غږوي.

په ځينو بيتونو کې د آوازونو تکرار شرنګېدلې داخلي موسيقي پنځولې ده. په دې بيت کې د «ز»، «ن»، «ض» او «ی» د تکرار موسيقۍ ته غوږ شئ:

به ما گزندِ زبانی زدی ندانستی
که ضد زنده‌گی خویشتن قضا کردی

او د دې نورو بيتونو د موسيقۍ خوند هم وځکئ:

در این دیار عقابان و قله‌های بلند
زمین زمین منست و زمان زمان منست

ظفر ز جبن جبونان هنوز جوشان شد
چو رعد ثور سراپا غریو و افغان شد

که او دوباره همان قهرمان دوران شد
و مرد، مرد شود از نبرد با تقدیر

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

که فرق مرد مجاهد شود ز فرد اجیر
و شیر شرزه نگردد ردیف روبه پیر

که د لایق صاحب «مردی از کوهستان» منظومه نوره هم راوسپړل شي، ډېر نور کمالونه به په کې پیدا شي، نو زه به د دې بېساري شاعر روح ته همدومره ووایم چې:

ستا د ښایست ګلونه ډېر دي
ځولۍ مې تنګه، زه به کوم کوم ټولومه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ